ورځپاڼه
# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
چهار شنبه د ذوالحجة الحرام ۲۱ مه ۱٤٤٦ق کال، د غبرګولي ۲۸ مه ۱٤۰٤ ل کال، د جون ۱۸ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۶۸ مه، پرله پسې ګڼه ۷۳۱ مه، اتمه دوره


## د ریاست الوزراء اداري مرستیال په رسمي سفر چین ته تللی

د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د یوه لوړپوړي پلاوي په مشرۍ د چین – سوېلي اسیا په نهم نندارتون او فورم کې د ګډون په موخه چین ته تللی دی.ارګ پر خپله اېکس‌پاڼه لیکلي: دغه سفر د چین د رسمي بلنې پر اساس ترسره کېږي او د پلاوي په ترکیب کې د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر نورالدین عزیزي او د بهرنیو چارو وزارت مالي او اداري معین ډاکټر محمدنعیم وردګ هم شامل دي .سرچینې زیاته کړې، مولوي عبدالسلام حنفي به د خپل دغه سفر پر مهال د چین – جنوبي اسیا په نهم نندارتون او فورم کې د ګډون او وینا کولو ترڅنګ د چین له یو شمېر چارواکو سره د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا په اړه هم خبرې وکړي.

مولوي عبدالکبیر:

## حکومت پانګوالو او سوداګرو ته د لا ډېرو اسانتیاوو په هڅه کې دی



د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر مولوي عبدالکبیر له څو تنو پانګوالو او سوداګرو سره د دوی د فعالیتونو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې کړې دي. یادو پانګوالو او سوداګرو د پانګونې لپاره اوسني فرصتونه مناسب بللي او ویلي یې دي، چې د اسلامي امارت په واکمنۍ کې د پانګونې کچه لوړه شوې او تمه ده چې دا لړۍ لا پرمختګ وکړي. دوی د سوداګرۍ پر وړاندې بانکي بندیزونه خنډ بللي او غوښتنه یې کړې، چې اسلامي امارت دې سوداګرو ته د مالیاتو د ورکړې په برخه کې بدیلې لارې او د مالیاتو پر کچه بیاکتنه وکړي. همدارنګه دغو سوداګرو د خپلو یو شمېر ستونزو د حل په موخه خپل وړاندیزونه له ښاغلي وزیر سره شریک کړل. مولوي عبدالکبیر سوداګرو ته د ښه راغلاست ترڅنګ ویلي، چې د اسلامي نظام د هڅو په پایله کې کاروبار او سوداګرۍ ته ښه زمینه برابره شوې او اسلامي امارت هڅه کوي ... ۳مخ

د کانونو او پټرولیم وزارت:

## آفچین شرکت سره د پرلپسې سرغړونو له امله تړون لغوه شو

د کانونو او پټرولیم وزارت خبر ورکړی، چې د امو دریا نفتي حوزې د اکتشاف او د ۲۵ کلونو لپاره لاسلیک شوی و، د قراردادي شرکت له لوري د تړون له ژمنو د پرله‌پسې



سرغړونو له امله فسخه شو. د امو نفتي حوزه د هېواد یوه استخراج تړون چې د دغه وزارت او افچین شرکت ترمنځ له شپږو نفتي حوزو ده،چې په فاریاب، سرپل او جوزجان ولایتونو کې موقعیت لري. د ترسره شویو څېړنو له مخې، د امو نفتي حوزه کې ۸۰ میلیونه بېرله تېل تخمین شوي او شاوخوا ۸۴ کاله مخکې د سویډن د متخصصینو له خوا کشف شوي دي .د راپورونو له مخې، په ۱۳۹۰ لمریز کال کې له دې حوزې د تېلو د استخراج تړون د افغانستان دولت او د چین د نفتو ملي شرکت او وطن ګروپ ترمنځ لاسلیک شوی و، خو د ځینو دلایلو له امله یې کارونه ځنډول شوي وو .د کانونو او پټرولیم وزارت د امو حوزې د تېلو ... ۳مخ

## د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له راستنو شویو کډوالو سره د پراخو مرستو ژمنتیا وښودله

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت خبر ورکړی، چې د ننګرهار د کډوالو او راستنېدونکو چارو رئیس د پناه غوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له مسئولینو سره د راستنېدونکو کډوالو د ستونزو د حل په موخه د همغږۍ غونډه کړې ده.په دې غونډه کې، د ننګرهار د کډوالو چارو رئیس بازمحمد عبدالرحمن د کوچنیو کاروبارونو لپاره د حرفوي زده‌کړو، سرپناه جوړولو، نغدي، خوراکي او غیر خوراکي مرستو او نورو برخو کې د راستنو شویو هېوادوالو لپاره د زیاتو مرستو غوښتنه وکړه.د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ مسئولینو د شته ستونزو د حل لپاره د خپلې همکارۍ ډاډ ورکړ او د راتلونکو پروګرامونو په اړه یې معلومات شریک کړل. همدارنګه دوی له راستنېدونکو کډوالو سره د مرستو پراخولو په برخه کې خپله ژمنتیا څرګنده کړه.



مولوي قدرت الله جمال:

## د تاریخي اسنادو راټولول او د ملي هویت پیاوړتیا دوامدارې همکارۍ ته اړتیا لري




د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی،مالي او اداري چارو مرستیال مولوي قدرت الله جمال د یوه پلاوي په ملتیا د جهادي ارزښتونو د ساتنې له لوی ریاسته د ادارو ترمنځ د همغږۍ، همکارۍ او د ګډو اهدافو د تحقق په موخه لیدنه وکړه.په دې غونډه کې د جهادي ارزښتونو د عمومي ریاست رئیسانو، آمرینو او مسئولینو ... ۳مخ

## د افغانستان او ناروې ترمنځ د ډیپلوماټیکو اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار


د صنعت او سوداګرۍ وزارت خبر ورکړی، چې نورالدین عزیزي په اسلام آباد کې د ناروې له شارژدافیر او د افغانستان په چارو کې د ناروې له استازي پېر البرټ اېل ساس څخه غوښتي چې د افغانستان د کانونو د ظرفیت په اړه څېړنه وکړي او په دې برخه کې د بهرنیو پانګونو په راجلبولو او هڅولو کې همکاري وکړي.

په خبرپاڼه کې ویل شوي،چې دواړو لوریو د متقابلې همکارۍ له روحیې سره د افغانستان او ناروې ترمنځ د دوامداره، ګټورو اړیکو او د خبرو پر پیاوړتیا ټینګار کړی دی. سرچینه زیاتوي چې په دې کتنه کې د اسلامي امارت د پرانیستې اقتصادي او سوداګریزې پالیسۍ، د خصوصي سکټور او کوچنیو او منځنیو تصدیو ملاتړ، اروپایي هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو د زیاتوالي او له پاکستان او هند سره د سوداګرۍ د پراختیا په اړه بحث شوی دی. دا په داسې حال کې ده ... ۳مخ



## له پکتیا پوهنتون سره د لابراتوار د نویو تجهیزاتو مرسته

د پکتیا ولایتي اداري مطبوعاتي دفتر راپور ورکړی، چې د یاد ولایت پوهنتون په عصري لابراتواري تجهیزاتو سمبال شوی دی.د دې مطبوعاتي اعلامیې له مخې، د لوړو زده کړو وزارت له خوا د ۲.۵ میلیونو افغانیو په ارزښت نوي تخنیکي تجهیزات اخیستل شوي او د پکتیا پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځي لابراتوار ته سپارل شوي،چې په دې سره، د پوهنځي د لابراتواري تجهیزاتو ټول ارزښت له ۷۰ میلیونو افغانیو څخه ډېر شوی دی.



په مطبوعاتي اعلامیه کې راغلي،چې په دې تجهیزاتو کې پرمختللي وسایل لکه د کانکریټ ځواک فشار ګیجونه، د فشار د لامحدود مقاومت د ازمویني ... ۳مخ

## ۴۷۷۶ قیراطه زمرد وپلورل شول

د پنجشېر ولایت چارواکو خبر ورکړی، چې د دغه ولایت ۴۷۷۶ قیراطه زمرد یې د داوطلبۍ له لارې پلورلي دي.



د یاد ولایت د مطبوعاتو دفتر په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې دا مقدار زمرد د نږدې ۴۶۸۶۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت، د سلګونو کورنیو او بهرنیو سوداګرو په حضور کې وپلورل شول.په دې پروګرام کې،چې د پنجشېر د کانونو او پټرولیم رئیس مولوي محمد قاسم امیري او لسګونو ملي او نړیوالو پانګوالو ګډون کړی و، د پنجشېر والي حافظ محمد آغا حکیم ویلي،چې زموږ ټول تمرکز د سیمه‌ییز اقتصاد د احیا، د خصوصي سکتور د ودې او د ژمنو پانګوالو د جذب پر لوري دی، تر څو د طبیعي زېرمو له برکته، د پنجشېر خلکو ته د کار او هوساینې فرصتونه برابر شي .ده ټینګار کړی،چې د ولایت مشرتابه د کانونو وزارت او اړوندو ادارو سره په نږدې همغږۍ هڅه کوي،چې د قیمتي ډبرو د استخراج او پلور پروسه په معیاري، شفاف او تخنیکي ډول دوام ومومي. ښاغلي حکیم زیاته کړې،چې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته، په پنجشېر کې د کانونو د منظم استخراج پروژې پیل شوې او د کورنیو سوداګرو تر څنګ، د هند، چین، روسیې ... ۳مخ

## اماني صندوق تېر کال ۳۷ میلیونه ډالره مرسته ترلاسه کړې

د افغانستان اماني صندوق راپور ورکړی، چې په تېر ۲۰۲۴ کال کې یې شاوخوا ۳۷ میلیونه ډالره مرسته ترلاسه کړې ده. د یاد صندوق راپور کاږي،چې دا مرسته د ۲۰۲۳ کال په پرتله په ۲۰۲۴ کال کې ۱۳ سلنه زیاتوالی ښیي او تر اوسه یې ټول ۲۴۰ میلیونه ډالره جلب کړي دي. د افغانستان اماني صندوق همدا راز ویلي چې ترلاسه‌شوې مرسته تر ډېره پر ګډو پروګرامونو او




پروژو لګول شوې . د معلوماتو له مخې د افغانستان اماني صندوق سږ کال ۱,۳۶ میلیونو افغانانو ته د روغتیا ... ۳مخ

## کونړ کې وسلې او مهمات ترلاسه شول

د افغانستان د ملي دفاع وزارت خبر ورکړی، چې په کونړ کې یو شمېر وسلې او مهمات کشف او ترلاسه شوي دي. د ملي دفاع وزارت خبرپاڼه کې



د یادو څرګندونو ترڅنګ راغلي،چې یادې وسلې او مهمات د ۲۰۱ خالد بن ولید (رض) قول‌اردو د لومړۍ سرحدي لواء د منسوبینو له لوري کشف او ترلاسه شوي دي. د سرچینې د معلوماتو له مخې، د دغو عملیاتو په ترڅ کې ۷ کلاشینکوفونه، څلور نورې بېلابېلې وسلې، دوه لاسي بمونه، ۶۰۲۴ د تومانچې مرمۍ ۴۰۰۰ د کلاشینکوف مرمۍ او ګڼ نظامي توکي نیول شوي دي.

## هرات کې د کچالو د حاصلاتو لس سلنه زیاتوالی



په هرات کې د کچالو د راټولولو فصل له پیلېدو سره هم‌مهاله، د دې ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکو ویلي،چې سږ کال د کچالو حاصلات لس سلنه زیات شوي دي. د هرات د کرنې ریاست د ترویج مدیر، بشیر احمد احمدي ویلي، چې سږ کال پر شاوخوا ۱۳۰۰ هکتاره ځمکه کچالو کرل شوي او اټکل کېږي،چې نږدې ۲۵ زره ټنه کچالو راټول شي. نوموړی زیاتوي... ۳مخ

## د اروپایي ټولنې بشري مرسته کابل ته را رسېدلې

اروپایي ټولنې خبر ورکړی،چې پر سل ټنه بشري مرستو بار یوه الوتکه کابل ته رسېدلې ده.په افغانستان کې د اروپایي ټولنې استازولۍ پر خپله فېسبوک‌پاڼه لیکلي،چې د دې ټولنې سل ټنه اړینه بشري مرسته پرون په یوه الوتکه کې کابل ته راورسېده.

یادې ادارې دا نه دي ویلي چې په دغو بشري مرستو کې کوم توکي شامل دي.سرچینې زیاته کړې،چې له ۲۰۲۱ م کال کې راهیسې د دې ټولنې له خوا افغانستان ته د هوا له لارې ۲۱۵۰ ټنه بشري مرستې راوړل شوې دي.

## سرلیکنه



# د سرحدونو پیاوړتیا د هېواد ثبات تضمینوي!!

پخــوا سرحدي او لرې پرتې ســیمې تل له بنســټیزو خدمتونــو او ټولنیزو اسانتیاوو بې‌برخې پاتې شوې وې، د پخوانیو کمزورو او بلواکو حکومتونو له‌خوا ورته یوازې د شعار په کچه پاملرنه کېده او په حقیقت کې د خلکو حقونه له یوې مخې تر پښــو لاندې شوي وو، خو اوس دا ظالمانه چلند پای ته رسېدلی دی، ځکه چې د هېواد هر وګړی د اساسي خدمتونو حق لري. له نېکه مرغه د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو راهیسې حکومت په ټوله معنی د خدمــت اصل ته ژمن دی، عدل دا دی چې پراختیا باید یوازې په مرکز او ښــارونو کې نه، بلکې د هېواد په ټولو سیمو کې مساوي او عادلانه وي. د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د معلوماتو پر بنســټ د ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه د اوو سرحدي ولایتونو لپاره د یو میلیارد افغانیو په ارزښــت ۳۴۳ پراختیایي پروژې منظورې شوې دي، دا د خلکو او ولسونو د خدمت د بشــپړې ژمنتیا ښــکارندوېې دی. دا پراختیایي پروژې یوازې د پرمختګ ســمبولونه، نه بلکې د ملي یووالي او متوازن انکشاف پوره ثبوت دی. د یــاد وزارت د معلوماتو له مخې، دا پراختیایي پروژې د ښــوونې او روزنــې، روغتیا، مخابراتو او ســړک جوړونې په برخــو کې دي، چې له ټولو محرومو او ستونزمنو سرحدي سیمو ته به د ژوند بنسټیزې اسانتیاوې برابرې کړي. لــه دغو پروژو څخه ۷۶ یې همــدا اوس تر کار لاندې دي، چې ښــیي اســلامي امارت یوازې خبرې او شــعار نه، بلکې عمل کوي. د دغو پروژو د عملي کېدو پیل له نورســتان څخه شوی، چې په کامدېش او پرګمټال ولسوالیو کې د اوبو رسونې او سړک جوړونې برخو کې پیلېږي. دا هغه سیمې دي، چې د امریکایي اشغال پر وخت د کابل ادارې له هر قسم پاملرنې څخه محرومې وې ، خو اوس یې خلک د اسلامي امارت له بشپړې پاملرنې برخمن دي. د خوښۍ خبره دا ده، چې دغه پراختیایي پلان، یوازې د فزیکي زیربناوو معنی نه لري، بلکې د سرحدي ســیمو له اوســېدونکو سره د اعتماد، یووالي او هویت د درناوي بارزه نښــه ده. اســلامي امارت له وړاندې هم د دغو ســیمو لپاره ځانګــړې کمېټه جوړه کړې وه، چې هدف یې د سیمو ستونزو ته رسېدنه او د اړتیا وړ خدماتو برابرول و. دا چې اوس دا ژمنــې پلې کېږي، د خلکو هیلې راټوکېدلي او د حکومت او ملت ترمنځ واټن په نشت حساب دی. د یادونې وړ ده، چې د سرحدي سیمو پیاوړتیا، د ځایي خلکو او ټول هېواد د امنیت، اقتصادي هوساینې او اداري ثبات لپاره بنسټیز ارزښــت لري. هغه هېوادونه چې خپل سرحدونه پیاوړي کوي، نه یوازې له بهرنیو تهدیدونو ځان ســاتي، بلکې داخلي بې‌عدالتۍ ته هم د پای ټکي ږدي. نن ورځ، د ننګرهار، کونړ، نورســتان، خوســت، لوګر، پکتیا او پکتیکا خلکو ته دا زېري ورکوو، چې اســلامي امارت یوازې شعار نه ورکوي، بلکې د عمل پر مټ ښــیي، چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، له شماله تر جنوبه، له پلازمینې تر وروستي سرحده پورې.

پوره یقین دی، چې د اســلامي امارت د متــوازن پرمختګ دا لویه پروژه، د حکومــت پر ژمنتیــا، کلک عزم او پراخ لیدلــوري باندې د خلکو باور لا زیاتــوي او دا په عمل کې ثابتوي، چې د تېــرې ادارې په څېر یوازې په خوله د افغانســتان وګړي نه بلل کېږي، بلکې د دوی د روښــانه راتلونکې لپــاره هر ممکن اقدام خپل شرعي مســئولیت ګڼي . بــاور مو دا دی چې د اسلامي امارت په حاکمیت کې افغانستان، د عدالت، انکشاف او یووالي پر بنسټ ولاړ دی، له هېچا سره دوه ګونی چلند نه کېږي، له سرحده نیولې تر پلازمینې، دا هېواد د هر افغان ګډ هویت، برخلیک او راتلونکی دی، د هر افغان وګړي د رفاه او سوکالۍ لپاره مخلصانه هڅې او اقدامات کېږي. نور هغه وخت تېر شــوی، چې ادارو او حکومتونو به د ولسونو تر منځ د مور او مېرې چلند کاوه، په ژبو او فرقو یې وېشــلي وو، د عدل او انصاف بېړۍ غرقه وه، چا به په غبرګو ژامو د ملت بیت المال خوړ او چا ته به د ځنکدن پر وخت هم یو ځاځکی اوبه نه رســېدې.اوس نو ولســونو ته هم په کار ده چې د تل لپاره د اســلامي امارت کلکــه ننګه او ملاتړ وکړي او په ټولو نېکو کارونو کې یې هراړخیزې مرستې ته متې رابډوهلي واوسي. والسلام علیکم و رحمةالله و برکاته!

# سنگبــاران شیطــانهــا

**روان**

در مراســم حــج یکــی هــم سنگباران تندیس شیطان است و این عمل به عنوان سیمبول عمل انقلابــی در برابــر مزاحمتهای شیطانهای زمانی و مکانی است که هر حاجی آنرا تمرین می کند و باید هم در زندگی بعد از ادای مراســم حج ، آنرا تمثیل هم کند ، یعنــی که زندگی قبــل از حج حاجي و بعد از آن باید متفاوت گــردد و آثار جدیــد و انقلابی حــج بایــد در زندگــی حاجي بــرای هرکــس قابل مشــاهده گردد .

در فلســفه رمــی جمــرات و یا پرتاب کردن ســنگ به ســوی تندیس شــیطان آمده اســت که وقتــی حــضرت ابراهیــم علیه الســلام به قصد قربانــی کردن حضرت اســماعیل علیه السلام در همین محل آمده بود، شیطان به نیت منصرف کردن و اغوای او از عقبــش دوان دوان آمد و فریاد زد که این کار را نکن و آن خلاف شفقت پدری است ، مگر وقتی ابراهیم علیه السلام سخن او را شنید، به خاطر طرد و نفی او از آن محل به ســوی او سنگ پرتاب کرد و یــا به اصطلاح او را ســنگ باران نمــوده از خود دور ســاخت و بعدهــا به جای همان محل که شــیطان به دنبال حــضرت ابراهیم علیه الســلام آمده بود. تندیس شــیطان نصب شده که حاجیان محترم هر سال در مراســم حــج آن را با پرتاب ســنگریزه‌ها به سوی آن تندیس ، هــمان حادثه تاریخــی را که تخمیناً حدود ۱۷۰۰ تا ۲۰۰۰ سال قبــل در زندگی حضرت ابراهیم علیه السلام به وقوع پیوست، به خاطره‌ها مــی‌آورد و این مفهوم را بــه حاجیان تلقین می کند که حج یــا زیارت کعبه بــه عنوان محل هبوط وحی الهی و قانون حق در واقــع اتصال خط نبوت حضرت محمد صلی الله علیه و سلم با پیامبران گذشته و تعقیب راه‌های مبارزاتی ضد استکباری آنان در برابــر طاغوت‌های هر زمان و هر مکان اســت که باید با در نظر داشــت شرایط دنبال گــردد و این کار در حقیقت راه مشــترک مبارزه تــمام پیامبران علیهم الســلام اســت، کــه در مناســک حج به عنــوان تمثیل ســمبولیک بــرای فعالیت‌های مبارزاتی از آن استفاده می‌شود، یعنی اینکه حاجی باید بداند که رمــی جمرات در حــج، تعهدی است که حاجی در کعبه خداوند با خــدا و مردم مســلمان جهان بســته و در هر کجای جهان که دشــمنان اسلام و دشــمنان حق برای مســلمانان مزاحمت کنند، بایــد طبــق صوابدیــد زمان و مکان،علیه آن حساسیت ایمانی خود را نشــان دهند و بر اساس اخوت اســلامی از مظلومان در برابر مســتکبرین و متجاوزین و اشــغالگران، به جان و مال و قلم و زبــان، در جبهات جنگ سرد و گــرم، برابر بــا امکانات خود دفــاع نمایند، زیرا چنانکه می‌دانیم و می‌بینیم، حج به عنوان کنگره سرتاسري و جهانی سالانه در یک محل به صورت دســته جمعــی برگزار می گــردد و این سالانه بودن این کنگره هم برای اینکه مسلمانان متمول باید سالی یکبار برای اگاهــي از اوضاع سیاســی و اجتماعی و اقتصادی و امنیتــی جهان اســلام گردهم بیاینــد و از اوضاع کشــوری ، منطقــه يي و جهانــی همدیگر مطلع شــوند و در هر جایی که مشــکلات موجود باشــد، باید جهت حل آن برنامه‌های مشترک راه‌اندازی شــود و رمی جمرات و یا سنگ باران سیمبولیک در حــج را در کشــورها و مناطق ســکونت شــان عملی ســازند، زیرا حاجیــان غالباً افراد متمول جهان اسلام می‌باشند و در میدان زندگی امکانات مادی بیشــتری دارنــد و در بخش‌های اقتصادی و تولیدی کار می کنند و روابط شــان با جامعه در دایره وســیع انجام می‌شــود و بــالای زندگی جامعه اثرگذاری‌های بیشــتری دارند و می‌توانند از نفوذ مردمی خویــش در حل و فصل حوادث و منازعــات و اختلافات داخلی و قضایــای کلان بیرونی، بهتر و سریعتر و مفیدتر استفاده کنند .

خلاصــه کلام اینکــه حاجیان محترم در مراســم حج با سنگ باران کردن سیمبولیک تندیس شــیطان و یــا رمی جمــرات، پیــمان جدیــدی را در آن مکان هبــوط وحــی بــا خداوند (ج ) می‌بندنــد و آن ســنگ باران کــردن شــیطان‌های زمــان و مکان در هر جای جهان اســت و چنان کــه می‌دانیم و می‌بینیم در این لحظات حســاس تاریخ بشریت، اهالــی سرتاسر زمین در اثــر تلاش‌هــای مذبوحانه کشــورهای کلان برای توسعه هژمونــی جهانی خــود، جهت استثمار منابع اقتصادی به شدت تام با هم رقابت دارند و در این رقابت شــان به هر روا و ناروا دســت درازی می کنند و حیات تمام بشریــت را بــا تهدیدهای یک جنــگ کلان و تصادمات جهانی روبرو ساخته است .

در چنین حالات، ایمان و اسلام و تاریخ مشترک و اخلاق مدنی و منافع مشترک سیاسی و اقتصادی و ایدئولوژیــک و تمدنــی، هر کدام حکم می کند که در برابر ظلــم روایی‌های مســتکبرین و اشــغالگران و خونخــواران و قاتلین و جنایتکاران، بی تفاوت نباشــیم و هر کدام ما در حدود امکانات خــود از مظلومان در برابر ظالمــان و قاتلین حرفه یی دفاع کنیم و از حضور مســتقیم فیزیکی گرفته تا تمویل و تجهیز سیاســی و اقتصادی و عسکری از آنانی که در جبهه مســتقیم با متجاوزین و شــیطان‌های زمان و اشــغالگران قرار دارند، دفاع نماییم و پیمان ســنگباران کردن شــیطان را که همیــن چند روز قبل در مجاورت کعبه شریفه با خدا بستیم ، در عمل تمثیل نماییم و بــا این تمثیل خود حج و دیگر عبادات دسته جمعی و بین المللی خود را بــا روح انقلابی آن تمثیل نماییم و بــا این تمثیل خود تاریخ مبارزات پیامبران علیهم السلام را از نو احیا کنیم و به عید کلان یا عید قربانی بنابر داشتن و تلقین همیــن روحیه مبارزاتــی، عید کلان گفته شده است.

امیدواریم که این احیای بزرگ را به خوبی و ســلامتی به پیش ببریم.

# د خپلو سیندونو مهارول د اسلامي امارت لومړیتوب دی

**سالمزی**

د کونړ سیند یو له هغو سیندونو څخه دی چې پــه مهارولو سره به یــې د افغانســتان برښــنایي ســتونزه هواره شي او له امله به یې لســګونو زرو کســانو ته د کار زمینــه هم برابــره شي، چې د هېواد پــه اقتصادي پیاوړتیا او بیارغونه کې مهم او ارزښتناک رول لــري. له خپلو اوبو څخه د ګټې اخیســتنې یوه مهمه بېلګه د قوشــتېپې کانــال دی چــې د افغانســتان لپــاره د اوبو لګولو یوه ستره او مهمه پروژه ده، چې دا مهــال یې چــارې په چټکۍ سره جریــان لــري او موخه یې د هېواد په شــمال کې د کرنیزې ځمکې خړوبول دي. دا کانال د بلخ له کلدار ولسوالۍ څخه پیل کیــږي او د فاریاب او جوزجان ولایتونو ترځمکو رســیږي. دا کانال بــه شــاوخوا (۵۰۰) زره هکتــاره وچــه او نیمــه وچه ځمکــه خړوبه کــړي، چې دا بــه د کرنې د پراختیــا لامل شي او د خــوړو تولید به زیات شي. د دغه کانال له امله به د ســیمې اقتصــاد پیــاوړی شي، خلک به کار پیدا کړي او د کرنیزو توکو سوداګري به زیاته شي. دا پروژه افغانســتان ته دا تــوان ورکوي چې د خپلو اوبو کنټرول پخپله وکړي، چې تر ډېــره له هېواده بهــر ازبیکســتان تــه بهېدې. د کانــال د جوړولــو پرمهــال او وروســته به زرګونــو خلکو ته هــم د کار زمینــه برابــره شي، اقتصــادي وده، کاري فرصتونه او د ژوند د شرایطو ښــه کېدل کولای شي د سیمې ثبات ته زمینه برابــره کړي. د اســلامی امارت د لومــړۍ پلا واکمنــۍ پرمهال د هغه وخــت د بهرنیو چارو د وزیر مولوي وکیل احمد متوکل او د ازبیکستان او ترکمنستان د بهرنیو چــارو د وزیرانو له خوا د ټاپــې پروژې ابتــکار او هم د قوشتېپې کانال د عملي چارو پیل او جوړونه د اسلامي امارت هغه



لاس ته راوړنــې دي چې تاریخ به یې هېڅکله هم لــه یاده ونه باسي او دې ته ورته د لســګونو لویو او وړو پروژو او د برښــنا بندونو کارونه جریان لري چې ځیني یې تکمیل شــوي او ځیني یــې د تکمیلېــدو په حــال کې دي. زموږ مســئولینو هم دې ته لومړیتوب ورکړی چې دا چاره د ملت د غوڅ اکثریت د هرکلي وړهم ګرځېدلې ده. که د برښــنا او کرنیزو ځمکــو د خړوبولو ســتونزه هــواره شي، یواځې د هلمنــد ولایت ځمکــې کولای شي د هېواد په کچه د غلې دانې ســتونزې ته د پای ټکی کېږدي، ځکه چې افغانستان یو زراعتی هېــواد دی او پــه دې برخه کې باید اســاسي او کوټــلي قدمونه واخیســتل شي. زمــوږ د هېواد وچې او تــازه میوې چې نړیوال ریکارډ لري د اوبو د نشتوالي له امله یې بهرته د لېږد او صادراتو په کچه کــې کموالی راغلی. په سرکې مو د کونړ د سیند یادونه وکړه، که دغه سیند مهار شي او د سورطاق په سیمه کې د برښنا بند د جوړولو عملی چارې پیل شي. خلک دې ته حاضر دي چې په جوړولو کې یې له خپلو جیبونو څخه د پیسو ونډه په غاړه واخلي. موږ یو ځل بیــا د خپل ولس په استازولۍ پر خپلو چارواکو غږ کوو چې پردغه ســیند د برښــنا بند د جوړولو چارې ژر تر ژره پیل کړي چې دا بــه د هېواد په اقتصادي پیاوړتیا کې هم رغند او مهم رول ولوبوي.

د یوه ودان او پرمختللي افغانستان په هیله

# بهره برداری از پروژه های انکشافی گامیست به سوی خود کفایی

**مجتبی**

افغانستان از جمله کشورهاییست کــه دارای منابــع آبــی فــراوان بوده،اما با تأســف که در بیست ســال حکومتداری به اصطلاح جمهوریــت و حتــی قبــل از آن بنابر نبود مدیریت سالم این آبها بدون اســتفاده از کشــور خارج شــده و به کشــور های همسایه سرازیر می‌گردید و کشــور های همســایه از منابــع آبی مــا برای آبیاری زمین های زراعتی و تولید برق خود استفاده می نمایند. لغمان یکی از ولایــات زراعتی با منابع بالقوه است،اما نیازمند بازسازی



زیر ســاخت های آبیــاری برای بهبود وضعیت زراعت و زندگی روستائیان می باشد، تطبیق پروژه هــای انکشــافی گامــی مهم به راستای توســعه محلی و تقویت امنیت غذایی به شــمار می رود. اخیراً مســئولین وزارت انرژی و آب به رسانه ها گفتند: که چندین پروژه انکشــافی مهم در ولایت لغمان به بهره‌برداری رســید. این پروژه ها با همکاری موسســات بین‌المللی بــه ارزش مجموعی ۳۲ میلیون افغانی عملی گردیده است که شــامل غرس نهال های نارنج، اعمار یک سربند آبیاری، ساخت دو چکــدم یــا ســد کوچک و حوض تربیه ماهی در مربوطات کانــال نهر کریم می باشــد. این پروژه هــا با همکاری موسســه جهانــی خــوارو بــار و زراعت FAO تطبیــق شــده و مراســم بهره‌برداری آن ...

ص۳

# « نتنیاهو» د یوویشتمې پېړۍ د نړۍ له ټولو تباه کوونکی صدردی

**خالد تسل**

امریکایي پروفیسر جیفري سیک د یوې مفصلې مرکې په یوه برخه کــې وایې چې اسرائیــل، امریکا د خپلو موخو لپاره اســتعمالوي. دی زیاتــوي: د نتنیاهو خیال بدل دی. د هغــه خیال دا دی چې موږ په ۱۹۶۷ م کال کې پر فلســطیني مځکو قبضه وکــړه او دا مځکې به موږ فلسطینیانو ته هېڅکله نه ور تسلیموو او موږ به پر دوی تل واکمني کوو .

اسرائیل وایې: موږ به دا مځکه د خپل ځان ګڼو او پکې پایو به.

همماله دوی تــه حماس، حزب الله او نــور جنګیالي سر خوړی جوړېږي .

موږ د دوی په اړه څه کوو، هغوی وایې چې مــوږ له اصلي ترهګرو سره نه جنګېــږو، بلکې له هغو مســلمانو هېوادونــو سره جګړه کوو چې د همدې ترهګرو ملاتړ کوي .

خبریال ترې پوښتنه کوي چې آیا د دوی پــه ذهن کې ایران مرکزي ځای لري؟

امریکایي پروفیســر ورته وایې: نــه د نتنیاهو لپاره پــه زړه پورې خبره داده چې هغــه یو یو هېواد د ځمکــې کړې له نقشــې وباسي (دغې خبرې ته د ایران ولســمشر مسعود پزشکیان اشاره کړې چې د اسرائیلو دښمني تنها له موږ سره نه ده، بلکې هغوی د مســلمانانو د ښــمنان دي او یو یو به وژني.)، هو، بالکل! دا خبره ســمه ده چې ایران به هرومرو...

۳مخ

## اعلان تدارکات

موضوع: نـشر اعلان مجدد پــروژه تهیه و تدارک وســایل تکنالوجــی معلوماتی برای دیجیتل سازی امور وزارت معادن وپترولیم عنوان وشماره دعوتنامه داوطلبی ( MOMP-G-13-NCB-1404)

ریاســت تدارکات وزارت معادن وپترولیم از تمـام داوطلبان واجد شرایط دعوت بعمل می آورد تا در پروســه داوطلبــی تهیه و تدارک وســایل تکنالوجی معلوماتی بــرای دیجیتل سازی امور وزارت معادن وپترولیم اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوطه را به مبلغ ۱۰۰۰ افغانی از آمریت تدارکات اجناس و خدمات غیرمشورتی الی تاریخ ۱۸سرطان ۱٤۰٤ روز چهار شنبه ســاعت ٤:۰۰ بعد از ظهر اخذ و آفر هــای خویش را مطابــق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات خانه پری و در جلسه آفرگشایی ارایه نمایند.

روز (آفرگشــائی) پنــج شــنبه بتاریــخ ۱۹-سرطان-۱٤۰٤ ســاعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفربشکل بانک گرنتی مبلغ (۹۷۲۰۰۰) نه صدو هفتادو هزار افغانی اهلیت داوطلب میباشد.

جلســه آفرگشــایی در منــزل اول ریاســت تدارکات تدویر میگردد.

## موضوع: در مورد تصمیم بر اعطای قرارداد یک باب طعام خانه مرکزی این وزارت

بدینوســیله بتاســی از فقره (۲) مــاده (٤۳) قانون تدارکات به اطلاع رسانیده میشود که وزارت آب و انــرژی در نظــر دارد یک باب طعام خانه مرکزی خویش را با محترم مسیح الله فرزنــد ذبیح الله به کرایــه ماهوار مبلغ (۱٤۵۰۰) چهارده هزار و پنجصد افغانی اعطاء نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعــتراض در زمینه داشــته باشــند، میتوانند اعتراض خویــش را از تاریخ نشر اعلان الی ۷ روز تقویمــی طور کتبی تــوام با دلایل آن بریاست تدارکات این وزارت، وفق ماده (۵۰) قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

## اطلاعیه لیلام

آمریت انســتیتوت ملی رادیولوژی به مقدار (۲۱.۴۳۰) کیلــو گرام نقره رســوبی خویش را بعد از طی مراحــل اصولی از طریق لیلام بــه فروش می رســاند. اشخاص،موسســات و شرکــت های که خواهش خریــداری آنرا داشته باشــند به تاریخ ۱۴۰۴/۴/۷ به آمریت انســتیتوت ملی رادیولوژی جوار شــفاخانه عاجل ابن ســینا واقع پل آرتل که آخرین روز داوطلبی می باشــد مراجعه نمــوده و قبل از پروسه داوطلب مبلغ |(۱۵) فیصد پول تضمین نقدا اخذ میگردد .۱۷۸۶.



# افـغـان اعــــلانات

## اعلان

د عدلي وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاســت په پام کې لــري چې د ټولنې دلانبــه تنظیم په موخــه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم، کفالت خیریه بنسټ ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیســتلو لپاره قــاری صبغت الله دحاجی بسم الله زوی، د لوګر ولایت محمد آغه ولســوالی اصلي او فعلي اوســیدونکی د رییس ، او مولوی صاد جان د بهرام جان زوی، د لوګر ولایت مرکز ولسوالي اصلي او د کابل ولایت ۶ ناحیي فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شــوي که پر یادو اشــخاصو دصنــف اړوند کــوم څوک نیوکــه لري، د اعــلان له نیتی څخه تر لســو ورځو پوری د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلې بڼه وړاندې کړي له یادې نیټې وروسته به نوموړو اشــخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چې دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پوری په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لری.۱۷۸۹.

## اعلان

د عدلي وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاســت په پام کې لــري چې د ټولنې دلانبــه تنظیم په موخــه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم،اتحادیه شرکت های سیاحتی و درمانی شهر کابل ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیســتلو لپاره احمد سیر رحیمی د محمــد ظاهــر زوی، د کابــل ولایــت ۱۳ ناحیــي اصــلي او د کابــل ولایــت ۴ ناحیې فعلی اوســیدونکی د رییــس ، او مححود د فیــض الدین زوی، د کاپیســا ولایت نجراب ولســوالی اصلي او د کابــل ولایت ۱۱ ناحیي فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لــري، د اعلان له نیتی څخه تر لسو ورځو پوری د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اســنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلې بڼه وړانــدې کړي له یادې نیټې وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چی دجواز د صدور له نیټې څخــه د جواز تر نهایي نیټــې پوری په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لری.۱۷۹۰.

## اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم حسیب الله شهباز فرزند محمد علیم شــهباز ولدیت فیض گل دارنده تذکره نمبر ( ۰۵۲۹۲- ۰۷۰۰- ۱۳۹۸) مالک امتیاز دواخانه صبور واقع ناحیه پنجم ولایت کابل عنوانی معینیت غــذا و ادویــه وزارت صحت عامه عارض و از مفقودی مهــر دواخانه خویش خبر داده است

اشــخاص موسســات ودوایر دولتی در مورد آگاهــی حاصل نمــوده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۷۵

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز فنــی پروتیز دندان مربوط محــترم ذکی فرزنــد محمد ظاهر از ســوی ریاست اسبق بررسی از تطبیق قوانین صحی به تاریــخ ۱۴۴۴/۸/۲۷ اعطای شــده مفقود گردیده بناء از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۸۸

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی نمبر ۲۰۳۲/۳۲۸ مورخ ۱۲/عقــرب/۱۳۴۲ مرتبه محکمه چهاردهی کابل به اســم محمد داود فرزند صالح محمد ولدیت فقیر محمد جایداد واقع ناحیه سوم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۸۴

## اطلاعیه کندز

ریاســت صحت عامه ولایت کنــدز از تمام داوطلبان واجد شرایــط دعوت به عمل می آورد تا در پروسه داوطلبی تیل دیزل و پطرول ضرورت وســایط های صحت عامه اشتراک نموده شرطنامه را به لسان دری به دست آورده میتواند، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات سر از نشر اعلان الی مــدت ۲۱ روز کاری ارایه نمایند.

آخرین مهلت توزیــع شرطنامه یک روزقبل از آفرگشــایی بود وصــل شرطنامه و آفرهای با تضمین پــول نقد (اســتتمنت بانکی ) که در شرطنامه ذکر گردیده دو ســاعت قبل از آفرگشایی بوده و برگزاری مجلس آفرگشایی در تالار کنفرانس های صحت عامه صورت میگیرد.۷۸۸

## اطلاعیه مفقودی

یــک قطعــه قبالــه شرعــی نمــبر ٤۰٤/۹ مــورخ ۱۳۷۳/۱۰/۲۸ مرتبــه محکمــه ناحیه اول شــهر کابل واقع ســنگ تراشــی به اســم محمد نبی فرزنــد پاچا میر ولدیت محمد صادق مفقود گردیده از اعتبار ســاقط می باشد. ۱۷۹۵

---

## بهره برداری از پروژه های ...

بحضور مولوی شــیرجان راشدی، رئیس انــرژی و آب لغمان، نماینــدگان نهادهای همــکار و شــماری از مقامــات محلی برگزار گردید. رئیــس اداره انرژی و آب لغمان ضمــن قدردانــی از حمایت های FAO خواهان ادامه همکاری این نهاد در بخش‌های تکمیل پــروژه های باقیمانده، از جمله ســاخت دیوارهای اســتنادی در ســواحل کانال نهر کریم گردید. در این مراســم نماینده FAO نیز تعهد ســپرد که پروژه های بیشــتری در زمینه انکشــاف منابع آبــی در لغمان اجراء خواهد شــد. همچنان به گفتــه مســئولین، کار بالای کانال هــای شــاهی و بدیــع آب نیز در ولایت لغمان به گونه سریع ادامه دارد.

این در حالیســت که در افغانستان دشت هــای وســیع و زمیــن های فــراخ بدون اســتفاده و بهره‌برداری رهــا گردیده و به زمین های بی آب و علف تبدیل شده اند. امــا در مــدت دو دهه اشــغال بــا آنکه کمک هــای خارجی به میلیــارد ها دالر به افغانســتان سرازیرشد، اما کوچکترین کاری صورت نگرفته اســت و حکومت پیشــین کدام برنامه موثر را بــرای بهره بــرداری از ایــن منابع آبی روی دســت نگرفت.

بــر اســاس بررســی هایی کــه در مورد غنامندی کشــور ما از نگاه سطح حاصل دهی زراعتی به عمل آمده، گفته می شود، در صورتــی که درســت از منابع آبی در توسعه و گســترش عرصه های زراعت و مالداری استفاده می شــد در میان کشور های انکشــاف یافته قــرار می گرفت و بدون شک که بلند ترین مقام را در زمینه زراعت بدست می آورد. ولی باتأسف که از یکطرف حکومتداری ضعیف با فساد اداری و از جانب دیگر دشــمنان بیرونی این سرزمیــن با راه انــدازی جنگ های تحمیلی در چهاردهه و اشــغال افغانستان با ایجــاد نفاق و تفرقه انــدازی، شرایط ترقی و پیشرفــت را از مردم ما گرفته اند و نگذاشتند که مردم این کشور با استفاده از منابــع آبــی و زمین هــای حاصلخیز زراعتی به ســوی انکشــاف و ترقی گام بردارند.

از جانــب دیگر بررســی هــا از اوضاع سیاســی، اقتصادی و اجتماعی کشــور ما می رساند که در افغانستان با داشتن نیروی پرتوان بشری و زمین های وســیع زراعتی و منابع آبی در صورت اســتفاده درست و همه جانبه از این امکانات در گســترش زراعت بدون تردید در این بیســت سال گذشته بهترین زندگی مساعد می گردید. زیرا با اعــمار بندهای آبگردان و بندهای تولید برق امروز مردم ما باید به هیچ یک از تولیدات و حاصــلات زراعتی نیازمند بیرونــی ها نمی بودند و گنــدم مورد نیاز خود را با پول های گزاف از کشــورهای خارجی خریداری و وارد نمی کردند.

حــال کــه الحمدللــه امــارت اســلامی افغانســتان پیروز شده و امنیت عام و تام در کشور تأمین شده و هیچگونه تشویش و نگرانی از نبود امنیت موجود نیســت مردم افغانستان از مسئولین امارت اسلامی تقاضــا دارند که برنامه‌هــای اقتصادی را عملــی نمایند و احــداث بندهای برق آبی و آبگردان در کشور را رویدست گیرند، هرچند احداث بندهای برق آبی خیلی ها هزینه مالــی کار دارد و این کار زمانگیر می باشــد، اما ایــن ارتباط مــی گیرد به مسئولین امور وزارت انرژی که چگونه می توانند سرمایه داران داخلی و خارجی را برای سرمایه گذاری روی تولید برق آبی در کشــور تشویق نماید و یا با کمک‌های مالی مؤسسات کمک کننده و کشور های دوست امارت اســلامی افغانستان بتوانند پول مصرف آنرا تأمین کنند.

بدون تردید اگر سرمایــه داران داخلی و خارجــی روی احداث بندهــای برق آبی سرمایــه گــذاری نمایند با گذشــت زمان مشکل کمبود غله جات با افزایش کشت و زرع زمیــن های زراعتــی و حاصلات زراعتی و بی برقی در کشــور خاتمه یافته و برق مورد نیاز شهروندان از تولید داخل کشــور تأمین خواهد شد که می تواند در رشد صنایع داخلی تاثیر مثبت داشته باشد و از ســوی دیگر اســتخراج منابع طبیعی زیر زمینی را رویدســت گیرند تا باشــد امارت اسلامی افغانستان از مصرفی بودن نجات و بــه خود کفایی دســت یابد. از امکان بدورنیســت که در چند سال آینده کشــورما از نگاه حاصــلات زراعتی نیز نجات یافته و خود کفا خواهد شد.

## « نتنیاهو» د یوویشتمې ...

د دوی پــه ذهن کې مرکزي حیثیت لري، لیکن عراق چې د صدام حسین تر ولکې لاندې و، هغــه هم د حماس ملاتړ کاوه ، په شــام کې بشار الاســد دغه شان کول . دغه تــول هېوادونه (ایران، عراق، لبنان، شام، سومالیا، سوډان او لیبیا ) یې ملاتړي وو. پوهېــږئ چې اصلي پــلان څنګه و، چــې په پنځــو کلونو کــې اووه جګړې وشــوې؟ آیا امریکا اسرائیل استعمالوي؟ نه نــه نــه، دا اسرائیل دي چــې امریکا اســتعمالوي، چې په حقیقــت کې زموږ ځواکونه د هغوی په واک کې دي. هغوی د نړۍ د بــې امنیتۍ پوره پلان جوړ کړی دی چــې په ترڅ کې یــې زه نتنیاهو د ۲۱ مې پیړۍ د نړۍ له ټولو ستر تباه کوونکي صــدر ګنم، څکه نومــوړی له ۲۰ کلونو څخه د امریــکا خارجه پالیسي چلوي او زموږ په کربو شــتمني یې په خپلو شومو اهدافو کې مصرف کړی ده . اوس منځنی ختیځ په کوم حال کې دی؟ په شــام کې جګړه، لبنــان کې جګړه، فلســطین کې جګړه،عــراق کــې بــد امنــي، یمن کې جګړه، په ســوډان او لیبیا کې همدا شان بد امني. د دې ټولو ناخوالو ســتر لامل د اسرائیلي ریاست صدر دی.

## حکومت پانګوالو او ...

چــې پانګوالو او ســوداګرو ته لا ډېرې اســانتیاوې برابرې کړي.نومــوړي زیاته کړې، چې بنایي ستونزې وي، خو امارتي اداري د ننګونــو او خنډونــو د له منځه وړلو مســئولیت لري او په دې برخه کې هڅې کوي.

## آفچین شرکت سره د پرلپسې ...

د استخراج تړون د ۱۴۰۱ کال په مرغومي میاشت کې له یوه چیني شرکت سره د ۲۵ کلونو لپاره لاســلیک کــړ. د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند همایون افغان پرون پر خپله ایکس‌پاڼه لیکلي چې د امو دریا نفتي حوزې د اکتشاف او استخراج تړون چې د کانونو او پټرولیم وزارت او افچین شرکت ترمنځ د ۲۵ کلونو لپاره لاسلیک شــوی و، د قراردادي شرکــت له لوري د تړون له ژمنو د پرله‌پسې سرغړونو له امله فسخه شو.

هغه لیــکلي، د نوموړي تــړون د نقض مــواردو د څېړنــې په موخه لــه اړوندو وزارتونو او ادارو سره ګډې کمېټې تاکل شــوې وې او د کمېټو د کار په پایله کې وموندل شوه،چې افچین شرکت له تړونه مکرراً د فسخې موجب سرغړونې کړې وې او د تــړون د ژمنو په تطبیق کې پاتې راغلی و. ده لیکلي چې له یاد شرکت سره دغه تړون د ریاســت‌الوزراء د اقتصادي معاونیت د حکم پر بنسټ فســخه شو .افغان لیکلي: د کانونو او پټرولیم وزارت د تــړون او اړونــدو اســنادو د حقوقي ارزونې، د یادې ساحې د تخنیکي ارزونې او له افچین شرکت سره د مالي حسابونو د تصفیې په موخه، نړیوالو تجربه‌لرونکو مشورتي شرکتونو ته بلنه ورکوي،چې په یاده برخه کې رسماً خپله لېوالتیا (EoI) له وزارت سره شریکه کړي.

## د افغانستان او ناروې ...

چې د صنعت او ســوداګرۍ د سرپرست وزیر پر وینا، اسلامي امارت په افغانستان کې د دوامداره اقتصادي ودې او پرمختګ د ترلاسه کولو، د دندو د رامنځته کولو او د کډوالۍ کچې د کمولو او کنټرول لپاره منظم پلانونه لري.

## د تاریخي اسنادو راټولول ...

ګډون درلــود. د اطلاعاتــو او فرهنګ وزارت ویلي، چــې په لیدنه کــې دواړو لوریو د جهادي ارزښــتونو د ســاتنې او د ملي هویــت د پیاوړتیا پــه برخه کې د دوامداري همکارۍ پر اړتیا ټینګار وکړ. د لیدنې په ترڅ کې ښاغلي جمال د جهادي ارزښتونو د ساتنې او مستندولو پر اهمیت خــبرې وکړې او ویې ویل: دا ارزښــتونه د هېواد د تاریخ، هویت او د اشــغالګرو پر وړانــدې د افغان غیــور ملت د جهاد او مقاومت ښــکاره بېلګــې دي. دغه‌راز نوموړي د جهادي ارزښتونو د ساتنې لوی ریاست مســئولینو ته د تاریخي اسنادو د راټولولو او د جهادي موزیمونو د تنظیم په اړه د یو لړ سپارښتنو تر څنګ د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه.

## اماني صندوق تېر کال ...

معیشــت او د اقلیمي بدلــون پر وړاندې د مبارزې په برخــو کې خدمات وړاندې کړي دي. د ویلو وړ ده،چې سږ کال د یاد صندوق د خدماتو ډېره برخه د ښــځو او نجونو لپاره ځانګړې شوې ده.

لــه تېرو نــږدې څلورو کلونو راهیســې یــو شــمېر هېوادونو د افغانانــو د ملاتړ په موخه د افغانســتان لــه اماني صندوق سره میلیونونــه ډالره مرســته کړې ده. د افغانســتان اماني صندوق د مدیره پلاوې غړې، شــاه‌محمد محرابي ویــلي، چې دا صندوق د اســعارو د بیــې تثبیت، د بیو د کچو کنټرول او په هېواد کې د مالي ثبات د ساتلو لپاره جوړ شوی دی.

## ۴۷۷۶ قیراطه زمرد ...

او یو شــمېر اروپایي هېوادونو لسګونو پانګوالــو د پانګونې چمتووالی ښــودلی دی. نوموړي همــدا راز ډاډ ورکړی،چې د پنجشــېر ســیمه‌ییزه اداره د پانګوالو د دوامــدار ملاتړ، د پانګونــې د امنیت د تأمیــن او د اقتصادي ودې لپــاره د قانوني بســترونو برابرولو ته ژمنه لري. اسلامي امــارت لــه دې وړاندې هم څــو ځلې د پنجشېر زمرد د داوطلبۍ له لارې پلورلي دي.

## له پکتیا پوهنتون سره ...

وسایل، د خاورې مســتقیم پــرې کولو ماشــینونه، د ســاختماني موادو مخلوط کولو وسایل، د اوبو اندازه کولو ماشینونه او یو شمېر نور اړین لابراتواري تجهیزات شامل دي.

د یادونــې وړ ده چــې د دې تجهیزاتو په اضافــه کولــو سره، د پکتیا پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځي د لابراتواري وسایلو او تجهیزاتو ټول ارزښت اوس له ۷۰ میلیونو افغانیو څخه ډېر شوی دی.

## هرات کې د کچالو ...

چــې دا اندازه د تېر کال په پرتله، چې له ۱۲۰۰ هکتاره ځمکــې څخه کچالو ټول شــوي وو، لس ســلنه زیاتوالی ښیي. په همدې حــال کې، د ګذرې ولســوالۍ یو شــمېر بزګرانو ویلي چې د دې ولسوالۍ بزګرانــو کــې د کچالــو کرلــو لېوالتیا زیاته شــوې ده.دوی وایــي چې د هرات کچالو نه یوازې په صنعتي ښارګوټي کې کارول کېږي، بلکــې ګاونډیو ولایتونو ته هم لېــږدول کېږي.د هــرات د کرنې ریاســت د معلوماتو له مخــې، د ګذرې، انجیل، زنده‌جان، پښتون زرغون او کرخ ولســوالۍ د دې ولایت هغه مهمې سیمې دي،چې په کې کچالو ډېر کرل کېږي.

## علماء کرام او حقوقپوهان ...

کار بشــپړ شــوی دی د ناروې ســفارت شــارژدافیر، د عدلیې وزارت د قوانینو پر چټک کار او د پام وړ پرمختګونو ستاینه وکــړه.ده ویلي، چې له افغانســتان سره د ناروې اړیکې له مهمو لومړیتوبونو څخه دي او د ناروې حکومت هڅه کوي چې له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې جاري او لا پیاوړې کړي.

## له ګاونډیو هېوادو ...

له ګاونډیو هېوادونو، په ځانګړې توګه له ایران او پاکستان څخه د افغان کډوالو د اېستلو پروســه ګړندۍ شوې ده. ایراني او پاکستاني چارواکو اعلان کړی، چې د افغان کډوالو په اېستلو کې به په ځانګړې ډول هغه کسان شامل وي، چې د استوګنې قانوني اسناد نه لري. په ځینو مواردو کې، حتی هغه کډوال چې د اعتبار وړ اســناد لري له دې هېوادونو څخه اېســتل شوي دي.

## د افغانستان بهرنی ...

لارو پــه برخه کې اړیــن اقدامات کړي. یــاد وزارت ویلي: پــه بازارونو کې یې د هغو کســانو پــه وړاندې، چــې احتکار کــوي جدي اقدامات کــړي او له خلکو یې غوښــتي چې اندېښــنه ونــه کړي.د صنعت او ســوداګرۍ وزارت داسې مهال دا خبر ورکړی، چې له تېرو پنځو ورځو راهیسې د ایران او اسرائیلو ترمنځ جګړه روانــه ده او له امله یې د خلکو ترمنځ د سوداګریزو توکو د نرخونو د لوړېدو په اړه اندېښنې رامنځته شوې.

## غزه؛ اسرائیلي ...

ستونزمنه ده.عیني شــاهدانو ویلي، چې صهیونیستو اشــغالګرو د مرستو ترلاسه کولو په موخه پر راټولو شــویو زرګونو فلســطینیانو ډزې وکــړې او بمونه یې ور وغورځول.سربېــره پــر دې روغتیایــي سرچینــو الجزیــرې تــه ویــلي، چــې د صهیونیستي یرغلګرو په بریدونو کې لږ تر لږه ۷۴ فلسطینیان شهیدان شوي دي.په غزې ترانګــه کې د اسرائیلي یرغلګرو له څه باندې ۲۰ میاشتنۍ جګړې راهیسې لږ تر لږه ۵۵ زره او ۳۶۲ فلسطینیان شهیدان شــوي، چې ډېر یې ماشــومان، ښځې او سپین‌ږیري دي.

## د قومي ستونزو د حل ...

ښاغلي احمد د یادو مشرانو هرکلی کړی، هغوی یې خپلــو مســئولیتونو ته لا ډېر هڅولي او زیاته کړې یې ده؛ چې په میدان وردګو او بامیانو ولایتونو کې دې د هرې ولسي، لویې او کوچنۍ ســتونزې پرمهال د ولایــت له اړونــدو ادارو سره همغږې وساتي،څو یې ستونزې ژر او د هوکړې له لارې هوارې شي.

## فاریاب کې ۲ ټنه بې ...

توګه تعقیب شي او له هغو کســانو سره چې تاریخ تېــره او غیر معیاري خوراکي توکــي خرڅــوي، قانوني چلنــد ترسره کېږي. ځایي مسئولینو، له درملتونو او د خوراکي توکو د پلورنځیو له مسئولینو وغوښتل ترڅو د بې کیفیته او تاریخ تېرو توکو له پلورلو څخه په کلکه ډډه وکړي.

## د ټرمپ ګواښ ...

پر ایران د فشار زیاتوالی دی،څو د خبرو مېز تــه چمتو شي.په ورته مهال د ترکیې، سعودي عربســتان او مصر په ګډون ۲۲ هېوادونو په ایــران د اسرائیلو له لوري د بریدونو د سمدستي درېدو غوښتنه کړې ده.

## د افغانستان کرېکټ ...

له لوري پــه کې د دغــې ادارې عمومي رئیــس میرویــس اشرف او همدارنګــه اجرائیــوي رئیــس نصیب خــان او د یاد شرکت مســئولینو ګډون درلــود، چې په پایلــه کې یې د عمومــي ملاتړې نوی قرارداد د کرېکټ بورډ د اجرائیوي رئیس او د دې مخابراتي شرکت د حقوقي رئیس ســید خالد عزیز ترمنځ لاســلیک شو. د یاد هوکــړه لیک له لاســلیکه وړاندې د کرېکټ بورډ عمومي رئیس له دې شرکته د دوی د اوږدمهالــه مالي ملاتړ لپاره مننه وکړه او زیاته یې کــړه: " دا هغه شرکت دی،چــې د افغان کرېکټ د پیل له ورځو راهیســې یــې افغان کرېکټ بــورډ ته د مالي ملاتړ لاس ورکــړی دی. "نوموړي همــداراز زیاته کړه: لــه کرېکټ څخه مــالي ملاتړ ډېــر اړین وي، مــالي ملاتړ د ورزش او لوبــو پــه وده او پراختیا کې ځانګــړی رول ادا کوي. ښــاغلي اشرف دغه راز له نورو ملي او نړیوالو شرکتونو غوښتنه کړې، چې د نورو شته فرصتونو په ترلاسه کولــو کې ونــډه واخلي او د افغانســتان له کرېکټ بورډ سره ملګري شي. بایــد وویل شي، چــې د عمومي مالي ملاتړي حقوق څه مــوده وړاندې ازادې ســیالۍ او اعلان ته وړاندې شوې و، چې د تــدارکاتي پروســې له مخې یاد شــوی مخابراتي شرکت ګټونکی وپېژندل شــو او له مقدماتي پروســې وروســته ورسره رسماً قرارداد لاســلیک شو. د یادونې وړ ده، چــې دغه راز به د مالي ملاتړ په برخه کې د Powered By، Associate او Sleeve برخې مالي ملاتــړ ګټونکي شرکتونه هم ډېر ژر اعــلان او قراردادونــه به ورسره لاسلیک شي.

## د ټرمپ اداره امریکا ته...

اتباعو د سفر بندیز پراخوي،چې په پایله کې به یې د ۳۶ نــورو هېوادونو د اتباعو مخه ونیــول شي.ډونالډ ټرمــپ د روانې میاشــتې په لومړیو کې د یــو اجرائیوي فرمان په لاســلیک کولو سره امریکا ته د ۱۲ هیوادونــو د اتباعو پر ســفر بندیز ولګاوه.د ویلو وړ ده چې افغانســتان هم د هغو ۱۲ هېوادونو پــه ډله کې دی،چې امریکا تــه یې پر ننوتلــو بندیز لګېدلی دی.ســپینې ماڼۍ ته د ډونالــډ ټرمپ له ورتګ وروســته په امریکا کې د کډوالو پــر ضد جــدي اقدامات پیل شــوي او د ټرمپ اداري لــه امریکا څخه د زرګونو افغانانو د ایســتلو خــبرداری هم ورکړی دی. بلــه خــوا د کډوالو پــه برخه کې د دغو فرمانونو له لاســلیکولو وروســته د ټرمپ پــر اداري نیوکې زیاتې شــوې او په یو شــمېر ایالتونو کې د امریکا د نوي حکومت پر ضــد پــراخ لاریونونه هم ترسره شوي دي.

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې ویب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

چهار شنبه د ذوالحجة الحرام ۲۱ مه ۱۴۴٦ق کال | د غبرګولې۲۸ مه ۱۴۰٤ ل کال | د2025م کال د جون۱۸ مه


د عدليې وزير:

## علماء کرام او حقوقپوهان د قوانينو پر جوړولو کار کوي

د عدليې وزير، شـيخ الحديث مولـوي عبدالحکيـم شرعي، د ناروې سفارت له شارژدافير فی البرت ايلســاس سره د ليدنې پر مهال ويلي،چې علـماء کرام او حقوقپوهان د قوانينو پر مسوده کار کـوي او دغــه قوانين به د اميرالمؤمنين «حفظه‌الله تعالی» له دقيق نظر وروســته توشـيح او نافـذ شي. د عدليې وزارت د مطبوعاتو دفتر پرون د دې ليدنې خبر خپـور کـړی او د عدليې سرپرســت وزير پــه دې ليدنه کې ويلي: له کله راهيســې چې اسلامي امارت حاکم شوی او د امريکا اشـغال پای ته رسېدلی، الحمدلله په افغانستان کې د امن فضا رامنځته شـوې او د امنيت کومه جدي ســتونزه نه شــته. نوموړي زياته کړې،چې په تېرو



نږدې څلورو کلونو کې په ټولو برخو، په ځانګړې ډول د قوانينو په برخه کې، پراخ پرمختګونه شــوي دي.ده ويلي،چې اسلامي امارت د عدليــې وزارت فرعي قوانيــن لــه قرآن کريم، ســنت نبوي او د حنفي فقهي له معتبرو منابعو څخه اســتخراجوي او د دغو قوانينو ۹۵ سلنه ... ۳مخ

## پروان کې ۶۶۱ پوليسو مسلکي زده کړې بشپړې کړې

د کورنيو چارو وزارت خبر ورکړی، چې د پروان د پوليسو د جنګل‌باغ له ښوونيز او روزنيز مرکزه ۶۶۱ پوليس له دوو مياشتنيو مســلکي او عقيدتي زده کـړو فارغ شــوي.ياد منســوبين چې د پروان او پنجشــېر ولايتونو په ولسواليو او امنيتي حوزو کې جذب شــوي وو، له دوه مياشــتنيو مسلکي او عقيــدتي روزنې وروســته د پروان د پوليســو له روزنيز مرکزه فارغ او د ټولنــې خدمت ته وړاندې شــول. په همدې تــړاو جوړه شــوې غونډه کې د کورنيو چــارو وزارت د اداري معينيت نظامي مرســتيال شيخ محمد نظــر شــينواري، د تعليــم او تربيې قوماندانــۍ اداري مرســتيال مولوي وزيرالرحمن رحــماني، د پروان والي



مفتــي محمــد ادريس انــوري، د ياد ولايت د امنيې قوماندان قاري محمد جاويد ضياالرحمن او يو شمېر نورو مســئولينو او منســوبينو ګډون کړی و. مسئولينو په خپلو ويناوو کې نوي فارغ شوي منسوبين له خلکو سره ښه چلند، د اوامرو اطاعت او خپلو دندو ته په وخت رسېدلو ته وهڅول.

## له ګاونډيو هېوادو د نږدې ۵۰۰ کورنيو راستنېدنه

د کډوالو او راســتنېدونکو چارو وزارت اعلان کــړی، چې نږدې پنځه سوه افغان کډوالي کورنۍ له ايران او پاکستانه هېواد ته راستنې شوې دي.دغه وزارت پرون په يوه مطبوعاتي اعلاميه کې ويلي: ۴۹۷ افغان کورنۍ، چې ۵۵ کورنۍ يې د تورخم، ننګرهــار له لارې، ۴۹ کورنۍ د ســپين بولدک، کندهار له لارې، ۱۱۷ کورنــۍ د نيمروز د وريښمو له لارې، يوه کورنۍ د پکتيکا د انګــور اډې له لارې او ۲۷۵ کورنۍ د هرات د اسلام کلا له لارې هېواد ته راســتنې شــوې دي. د دغه وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې دغو کورنيو هېواد ته له راستنېدو سره سم د ا.ا له خوا مرسته ترلاسه کړه. له هغه وخت راهيسې چې ا.ا په ۲۰۲۱ م کال کې په افغانستان کې واک ته ورسېد ... ۳مخ

د صنعت او سوداګرۍ وزارت:

## د افغانستان بهرنۍ سوداګري له کوم خنډ پرته دوام لري

په ســيمه کــې لــه وروســتيو کړکېچونو سره ســم د صنعت او سوداګرۍ وزارت خبر ورکړی، چې له افغانستان سره د هېوادونو سوداګريزه راکړه ورکړه په منظم ډول او له خنډ پرته دوام لري.ياد وزارت د هېــواد د ګمرکونو او ولايتي مســئولينو د معلوماتو پر بنسټ ويلي، چې له افغانستان سره د ســيمې او ګاونډيو هېوادونــو تجــارتي اړيکــې نورمالي او په کور دننه بازارونو ته د توکو د وارداتو، ټرانزېــټ پــه عادي ډول روان دی. د يــاد وزارت د خپرې شوې



اعلاميې له مخې، اسلامي امارت د مرکزي اسيا له هېوادونو سره د وارداتي توکو او بديلو ... ۳مخ

## غزه؛ اسرائيلي يرغلګرو ۴۵ فلسطينيان شهيدان کړي



د الجزيــرې د راپور له مخې، اسرائيــلي يرغلګرو د غزې په ســويل خان يونس کې مرستو ته پر راټولو شويو فلسطينيانو بريد کــړی، چې لــږ تر لږه ۴۵ فلســطينيان په کې شهيدان او لســګونه نور ټپيان شــوي دي.د راپورونــو لــه مخې، د ســيمې فعال روغتون له ټپيانو او جســدونو ډک دی، چې د ټپيانو درملنه د روغتيايي توکو د نشتون له امله ... ۳مخ

## د قومي ستونزو پر حل او د خلکو ترمنځ د يووالي پر رامنځته کېدو بحث وشو

د سرحدونــو، قومونــو او قبايلو چــارو وزارت د جرګو او قبايلي چارو د همغږۍ مرستيال مولوي محمــد علي جان احمــد پرون له غرمې مخکې په ميدان وردګو او باميانو ولايتونو کې د شخړو د حل په موخه د ټاکل شــوي کمېسيون له مشر او غــړو سره ليدنه کړې. پــه دې ليدنه کې د يــاد وزارت د کوچيانو چارو د سمون لوی رئيس مــلا محمد بصر صاحبــزاده او د کوچيانو د اقتصــادي خدماتو او څېړځايونو رئيس مفتي لعل محمد منيب هم شتون درلود. ليدنه کې د يادو ولايتونو لپاره د جوړ شوي کمېسيون غړو د اسلامي امارت له لوري د خلکو ترمنځ د يووالي په اړه د هڅو ستاينه کړې او ويلي يې دي، چې د قومي ستونزو د حل او د خلکو ترمنځ د يووالي رامنځته کولو په برخه کې ورسپارل شوی مســئوليت په پــوره صداقت او ژمنتيا سره تر سره کوي ... ۳مخ



## فارياب کې ۲ ټنه بې کيفيته خوراکي توکي وسوځول شول

د فاريــاب ولايــت د صنعت او سوداګرۍ رياست مسئولين وايي چې د دغه ولايت په مرکز ميمنې ښار کې څه باندې ۲ ټنه تاريخ تېره او بې کيفيته خوراکي توکي راټول او وسوځول شول.
د ياد ولايت د صنعت او سوداګرۍ رئيس قاري نقيب الله حنفي باختر اطلاعاتي آژانس ته وويل چې دغه توکــي د مرکز اړونــد له بېلابېلو هټيــو او پلورنځيو څخــه راټول کړای شــوي او د ځايي مسئولينو په شــتون کې له منځه وړل شوي دي.نوموړي زياته کړه، چې دغه بهير به په دوامداره ... ۳مخ

## د سالنګونو لاره د هر ډول وسايطو پر مخ پرانيستل شوه

د ټولګټو چــارو وزارت پرون په يوه خبرپاڼه کــې ويلي: ملي ســوداګرو او هېوادوالــو ته د آســانتياوو برابرولو په موخه د دغه وزارت تــر ثاني امر پورې د سالنګونو لويې لارې پر اصلي مســير هر ډول بــار وړونکو تېلري وسايطو ته پــه نوبتــي ډول د تګ راتګ اجازه ورکړل شــوه.په خبرپاڼــه کــې دغــه راز راغلــي: هــر ډول مســافر وړونکي وسايط د



يادې لويې لارې له چمتو شوي بديــل( فرعي) مسـير څخه له دواړو خــواوو، په نورمال ډول ۲۴ساعته تګ راتګ کوي.
د دغــه وزارت د معلوماتــو پر اســاس، پــه دې کار سره به له يوې خوا پر ياده لويه لاره کار جريــان ولري او لــه بلې خوا به هېوادوال په اسانۍ پر دې لويه لاره تــګ راتګ وکړي.
د يادونې وړ ده، چې د ټولګټو چارو وزارت د دوشي – باميانو (ښــکاري درې) سړک د ترميم کار پيــل کړی او يــاد وزارت هڅه کــوي، چې دغه ســړک د وســايطو د تګ راتګ لپاره چمتو کړي. دا په داســې حال کې ده چــې د ټولګټــو چارو وزارت له اخــتره وړاندې ويلي و، چــې د ســالنګ لويه لاره د پاتې چارو د بشپړېدو په موخه د موټرو پر مخ تړل کېږي.

## سږ کال ۵ ميليونه افغانان چاپېريالي خطرونو اغېزمن کړي

د کډوالۍ نړيوال ســازمان راپور ورکړی ، چې د روان ميلادي کال په لومړيو درېوو مياشــتو کې په افغانستان کې پنځه ميليونه کسان د چاپېريالي



خطرونو له امله اغېزمن شــوي دي. دغه سازمان پرون په يوه راپور کې ويــلي، چې په روان کال کې ۷۹ ســلنه داخلي بې‌ځايه کېدنې د چاپېريالي ګواښــونو له املــه رامنځته شــوې دي.په راپور کې راغــلي: «اقليمي پېښــې او طبيعي ناورينونه په مســتقيمه توګه د معيشت پر بنسټ د بې ځايه کېدنو لامل شــوي او نږدې ۳۹۶ زره کسان يې اړ کړي،چې خپل کورونه پرېږدي.» دغه ســازمان زياته کړې،چې د چاپېريالي خطرونو په پايله کې خوراکي نا امني د ۲۰۲۵ م کال په پيل کې د يوې مهمې ننګونې په توګه راڅرګنده شوې ده.
د کډوالۍ نړيوال سازمان دا راپور «د افغانستان اقليمي زيانمنتيا د ارزونې» د دويم پړاو د موندنو په اړه کې خپور کــړی دی.بله خوا، د ملګرو ملتونو بېلابېلو ادارو په افغانســتان کې د اقليمي بدلونونو او د چاپېريال د وضعيت د خرابېدو په تړاو خبرداری ورکړی دی.

حوثي ځواکونه:

## د ټرمپ ګواښ د اسرائيلو د ماتې نښه ده

د يمــن انصاراللــه ځواکونو د ټرمپ د هغه ګواښ په وړاندې چې بايد تهران تخليه شي ويلي: دا ګــواښ د اسرائيلــو د ماتې نښــه او دا وضعيت د تل ابيب لــه کنټروله د وتلــو معنا لري. حوثيانو ويلي: که صهيونېست رژيــم د ايران د بريدونو مقابله کولای شــوای امريکا ايران ته ګواښ نه کاوه.په ورته مهال سي ان ان ټلوېزيون په سپينه ماڼۍ کې د يــوه چارواکي په حواله ويلي، چې د امريکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ ګواښ ... ۳مخ

## اعلان وزارت اطلاعات و فرهنگ

وزارت اطلاعات و فرهنگ به تعداد (۷۸۹) قلم داغمه جات خویش را به تاریخ ۱۴۰٤/٤/۱٦ در محضر هیئت ذیربط لیلام مینماید. اشــخاص، موسســات، شرکت های داخلــی و خصوصی کــه خواهش خریداری آن را داشــته باشــند، درخواســتی شان را به ریاســت محترم مالی و اداری مدیریت محاســبه اجنــاس این وزارت در چهارراهی ملک اصغر مقابل وزارت امور خارجــه، تعمیر اســبق وزارت دولت در امور پارلمانی بسپارند. مشــخصات داغمه و مازاد را ملاحظه کرده پانــزده فیصد تضمین طور پیش پرداخت اخذ می گردد.

## د ټرمپ اداره امريکا ته پر بهرنيو اتباعو د سفر بنديز پراخوي

امريکايــي رســنيو راپــور ورکړی،چــې د «ډونالــډ ټرمپ» اداره امريــکا تــه د ۳۶ نــورو هېوادونو د اتباعو پر تګ د بنديز پلان څېــړي، چې ښــايي متحده اياﻻتــو تــه د دغــو هېوادونو د اتباعو پر ننوتلو بنديز ولګېږي.د واشنګټن‌پسټ له خوا د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په خپاره‌شوي بيان کې ويل شــوي د ټرمپ اداره امريکا ته پر بهرنيو... ۳مخ



## د افغانستان کرېکټ بورډ له اتصالات مخابراتي شرکت سره هوکړه ليک لاسليک کړ

د افغانســتان کرېکټ بورډ ويلي؛چــې د دې اداري د مشرتابــه او اتصــالات مخابراتي شرکت د مسئولينو ترمنــځ د عمومي مالي ملاتړ د حقوقــو هوکــړه ليــک لاسليک شو، چې د يوه کال لپاره بــه د عمــلي کېدو وړ وي. د يــاد هوکړه ليــک لــه مخــې بــه دغــه شرکت پــه روان کال کــې د افغانســتان د کرېکــټ مــلي لوبډلې په ټولــو راتلونکو نړيوالو ســياليو کــې د مالي ملاتــړ ترڅنــګ د کورنيو سياليو لپاره هم د افغانستان د کرېکــټ بــورډ همکار وي. په دې اړه د افغانســتان د کرېکټ بــورډ په مرکزي دفتر کې غونډه جوړه شوې وه، چې د افغانستان کرېکټ بورډ اداري... ۳مخ

